

Ketabton.com

# د مرحوم مولوی محمدپذیرآخندزاده ژوند لیک

لیکوال : محمدبشیرمدني

کال : ۱۴۴۳ هـ ق / ۲۰۲۲ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه.......................................................................................................... 4
دمرحوم مولوی محمد پذیررحمه الله تعالی لنډه پیژندنه : .............................................................. 5
شهرت ئی : ........................................................................................................... 5
ولادت یی :............................................................................................................ 5
علمي ژوند يې :....................................................................................................... 5
- .................................................................................................................. 6
سیاسی ژوندئی : ...................................................................................................... 6
په افغانستان کې د کمونیزم خپرېدل:..................................................................................... 7
دهجرت لار: .......................................................................................................... 8
دچک د ولسوالي فتحه :............................................................................................... 10
د چک او جلګې په ولسوالیو  د روسانو یرغل:............................................................................. 13
دریمه ورځ روسانو د بیک سمند او چک په لور پرمختګ  :............................................................ 15
په اړه  ئی دخپلو دوستانوځرګندونی :.................................................................................. 16
-ښاغلی قاضی سید احمدشاه آغا وائی :............................................................................... 16
۲- د مرحوم قاضی صاحب محمد پذیرپه یاد  :........................................................................ 19
( قاضی محمد حسن اسلامی د مرحوم قاضی صاحب دهجرت او جهاد دسختووځوملګرئ یادښت) . 19
3- دزبیر شفیقي نظرمخکې د هجرت په لارکی تیرشو.......... ................................................ 21
خاتمه ........................................................................................................... 22
دمنابعو فهرس ..................................................................................................... 23

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدنا محمد، وعلی آله وصحبه أجمعین، اما بعد:

د افغان ولس تاریخ له هغو سپیڅلو شخصیتونو سره وياړي چې د دين، علم، مبارزې او غيرت په ډګرکې يې ځانونه قربان کړي دي. د دوی ژوند زموږ د نسلونو لپاره مشعل‌راه او د لارې څراغونه دي.

د مرحوم مولوی محمدپذیر آخندزاده رحمه‌الله ژوند د علم، هجرت، جهاد، تقوی، او فداکارۍ یوه ژوندۍ بیلګه وه. هغه نه یوازې یو عالم او قاضي و، بلکې د دين يو مخلص داعي، د ولس خدمتګار، د جهاد مخکښ مبارز، او د اسلامي ارزښتونو يو ثابت قدمه مدافع و. دا کتاب د ده د ژوند لیک، جهادي مبارزې، هجرت، قربانۍ، او خدماتو ته يوه وفادارانه کتنه ده، داليکنه په ډيره مينه او صداقت ترتيب شوې ده.

دا ليکنه نه يوازې د يوه فرد د ژوند تاريخي ارزښت څرګندوي، بلکې د يو ټولنيز واقعيت او د اسلامي نهضت د يوه مهم فصل روايت هم کوي، چې د تاريخ پاڼې پرې روښانه دي.

امید لرم، چې دا اثربه د علمي او تاريخي مطالعاتو لپاره يو ارزښتناک مآخذ وي، او د ځوان نسل لپاره به د الهام سرچينه وګرځي.

وما توفيقي الا باللهعليه نوکلت و اليه أنيب

محمد بشير مدني دمرحوم قاضي صاحب کشرزوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمرحوم مولوی محمد پذیررحمه الله تعالی لنډه پیژندنه :

### شهرت ئی :

مولوی محمدپذیر دمرحوم مولوی محمدیاسین زوی اود کندل خان لمسی دی ، پلاریی مولوی محمد یاسین خپل دینی درسونه په وردگوولایت کې تکمیل ، اودپخوانی دود سره سم دوردگو ولایت دچک دولسوالی د بیک سمند درې دجلیل په کلی کی امام شو.

### ولادت یی :

مولوی محمدپذیررحمه الله هم په همدی کلی کی په ۱۳۱۹هش کال کې دنیا ته خپلې سترګې وغړولی .

### علمي ژوند یې :

-دخپل پلارڅخه ئی لومړنی زده کړی پیل کړې خوپه وړوکوالی کی ئی دیتیم والی څپیړه پرمخ وخوړله خوددې سره سره ئی هم خپلوزده کړوته دوام ورکړ، درسونه ئی لانه وه ختم کړی چی مورئی هم وفات شوه ، بیائی دمروجه علوموپه پوره کولوسره دجلیل دکلی ترڅنګ د ټټنګ په کلی کی دجومات امام شوخوداچی دحدیثودمبارک علم سره ئی زیاته مینه درلوده دصحاح سته ؤدلویی دوری دپاره په کاپیساکی دتګاب سیمی ته لاړاوهلته ئی په ۱۳۵۱ه ش کال کی په ( الجامعه الاسلامیه المحمدیه الشریفیه ) کی چی دمیاګل جان آغا تراهتمام اوسرپرستی لاندی وه (او په هغه وخت کی ئی دپوهنتون سره مشابهت درلود) لویه دوره تکمیل کړه ،

-دحدیثو دمبارک علم سره د ډیرې مینې یومثال یی وړاندې کوم کله چې زه په مدینه منوره د حدیثو پوهنځی کې محصل وم نومادڅان سره څه کتابونه راوړل ، په هغه کې یوفتح الباری دصحیح البخاری

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرح وه کله يې چې کتاب واخيست ترډيروخته يې خپل زړه ته نيولی او ډيرخوشحاله وه ، زمونږملګروبه تحفې راوړې اومابه کتابونه راوړل !

-کله چې مولوی صاحب رحمه الله لويه دوره تکميل اوبيرته خپل کلی اوامامت ته راوګرځيد دحديثودمبارک علم په خپراوی ئی پيل وکړزيات شميرشاګردان ئی وروزل چی ډيرئی دجهاد په ليکوکی ښه وځليدل اوخپله علمی ورتيائی وښودله .

-داچی دعلم اوپه ځانګړی ډول دحديثودمبارک علم سره ئی زياته علاقه اومينه درلوده نوزيات شميرعلمی آثارئی دبی دينه کمونستانو په راتګ سره وسوځيدل اودخاوروسره خاوری شول ، يوڅه تيت پرک آثاريی مارا ټول کړي که الله جل جلاله توفيق راکړان شاء الله تعالی ترتيب به يې کړم.

**سياسی ژوندئی :**

داچی مرحوم مولوی صاحب ديووېښ ضميرڅښتن وه په هروخت کې به دمسلمانانوپه غم غمجن اوخفه وه دنظام بی عدالتی اوفحاشی خپرولوبه ډيرځوراوه چې په همدې وخت کې د کمونستانولخوا په اخبارکې يوکارتون خپور شو، چې (ما به مرد ۹ زنه جای نداريم)، يوفلم وښودل شو، چې ويل يې ما( تا به کی بګويم که خدا است).

-اوهمدارنګه کله چې په 1349 شمسی کال مرتد بارق شفيعی په لينن درود ويلی وه ، [1]دا اوداسې نور ټول اعمال  ددې لامل شول، چې هغه څوک چې اسلامي فکر لري، دې ته وهڅېږي چې د خپل فکر لپاره کاروکړي، په دې برخه کې علماؤکرامو د پل خشتي جومات مخې ته ډېره لويه مظاهره وکړه. نود ظاهرشاه

---

[1] - دغي موضوع ته شفيقی صاحب هم په اسلامی پاڅون نومی کتاب کی ليکنه کړی خو حقی يی حق دار ته ندی رسولی ص 14

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاسد نظام هم په تولوناروا ؤکی ککړوه اودهیواد علمای کراموهم خپل مسؤلیت وباله چی نظام خپلوبی لاریوته متوجه اوخپله ورسپارل شوی دنده تریوې اندازی ترسره کړی چې په ترڅ کی ئی د پل خشتی په جامع جومات کی سره راټول اوپه سوله اییز لاریون ئی لاس پوری کړچې مرحوم مولوی محمدپذیر رحمت الله علیه هم په کې ګډون وکړ.

-چی بیا وروسته دداودخان کودتا رامنځته شوه چی دظاهرشاهی نظام څخه دبدی ، بی دینی ، اوپه مسلمانانو باندی ئی دظلم کچه ډیره اوچته وه دمسلمانانو څخه بندی خانی ډکی اوکمونستانوته ئی په ملکی اونظامی چاروکی زیات قدرت اواوچتی چوکی ورکړی داځکه چی کمونستانوپه ځوانانو کی زیات کار کړی وه نومسلمانان هم دغی خلاته متوجه شول ، اومولوی صاحب هم پخپل وارسره دځوانانو تربیی ته پام راواړاوه چی بی شمیره ځوانان ئی دکفاروسره دهراړخیزې مقابلی په موخه وروزل چی دوخت په تیریدوسره دمسلمانانو اوکمونستانوترمنځ واټن زیات اوبالاخره دغوایی په اوومه د۱۳۵۷ هش کال باندی کمونستانودقدرت واګې په لاس کې ونیولی.

## په افغانستان کې د کمونیزم خپربدل:

-شوروي اتحاد د کمونیزم نظریات افغانستان ته راصادر کړل، تر څو لدې لارې افغانستان تسخیر کړي، افغانان په خپل کتارکې ودروي، د عربو بحر ته په رسېدو د عربو د تېلو منابعو او نورو اقتصادي اهدافو ته ځان ور نيږدې کړي، او هم پدې توله سیمه کې د غرب د نفوذ مخه ونیسي.

-د دې عقائدو له خپربدلو وروسته په هېواد کې (د افغانستان دېموکراتيک ګوند) په نامه د کمونستانو حزب رامنځته شو. دې ګوند په افغانانو کې د خپلو نظرياتو د خپرولو لپاره جريدې رامنځته کړې چې په هغو کې يوه د نور محمد ترکي د ځانګې لخوا د بارق شفيعي په مشرۍ د (خلق) او (بله) د ببرک کارمل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګې لخوا د سلیمان لائق په مدیریت د (پرچم) په نامه ونومول شوې. له څه وخت وروسته د نور محمد ترکي او ببرک کارمل تر منځ اختلافات رامنځته شول چې د دې ګوند د تقسیمېدو سبب شو. د نور محمد ترکي پلویان د خلق په نامه سره را غونډ شول، او د ببرک کارمل پلویان د پرچم په نامه، خو دواړو ډلو به په رسمیاتو کې ځان (حزب ډیموکراټیک خلق افغانستان) نوماوه.

-دوئ د ظاهر شاه د حاکمیت په وخت کې په ښکاره په فعالیت پیل وکړ. په افغاني مکاتبو، لیسو او تعلیمي مراکزو کې یې فعالیتونه شروع کړل، او د ځان لپاره د پلویانو د روزلو په مقصد یې تقریبا په ټول افغانستان کې فکري او تربیوي حلقې تأسیس کړې. دوئ په دې فعالیتونو او حلقو کې د کمونستو ادیبانو، فیلسوفانو، لیکوالو او سیاسي رهبرانونو په تېره د لینن فکري ادبیات او کتابونه تدریسول، روسي او کمونستي ناولونه، مقالې، فلسفه، عقاید او کتابونه به یې ژباړل او بیا به یې د خپلو پلویانو په واک کې ورکول[2].

## دهجرت لار:

-محمد زبیر شفیقی لیکي : دثوردکودتا څخه وروسته لومړي کسان چې دهجرت لارېې ونیوله ............ مولوی محمدپذیر اوملنګ دهغه زوی وه [3].

-داچې مرحوم مولوی صاحب دوینې احساس خاوندوه دخپل ایمانی احساس اودینی مسؤلیت په سرته رسولوسره یې دهجرت لارغوره وبلله په منطقه کې یې نورژوند تریخ شود ټینګ دکلی دمرحوم حاجی صاحب عبد الغنی اودهغه د ځوی میرولی په ملکرتیا دهلمند ولایت د مرجې ولسوالې په نهم بلاک کې چې د

- کابل ټکی کام د مولوی عبد الهادی لیکنه . [2]
- اسلامی پاخون ص 43- 44 . [3]

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوی صاحب د ماما زامن هریوهدایت الله خان او عتیق الله خان په نوم اوسیدل دهغوی سره یی درې میاشتې تیرې او بیرته کلی ته راستون شو .

-داچې زما مشرورور مرحوم استاد ملنګ مخکې پیښورته تللی وه لاراو ګودرورته معلوم وه کورته راغی ، پلاراوزوی دواړه سره یوځای د مشورې څخه وروسته په دی سلاشول چې سبابه ان شاء الله هجرت کوو

-زه چې په هغه وخت کې وړوکی وم دپلارسره مې یوځای د ټټنګ د کلی مو ماښام ناوخته قولک لنګرته درسیدو په هیله حرکت وکړ دکلي نه چې راووتو وضع ډیره زیاته خرابه وه هرلوري ته دکمونستانودپلویانوکوکارې اودهوراهوراسورې وهل په ډیردرز سره روانه وه .

- کله چې د لنګردښتې ته راورسیدو نو دخلقیانوچیغې زیاتې شوې باران اوریده ډیریخ وه شپه په راتلووه هلته په ادیره کې څه موده پاتې شووزه بالکل حیران وم چې چیرته روان یو او څه به کیږي کله چې شپه په تینکیدوشوه دخلقیانو چیغی او سورې هم څه ناڅه په کراریدوشوي .

- مولوی صاحب مرحوم پاڅیده ماویل : کاکاچیرې ځو ، هغه روان شو او زه ورپسې شوم ، دلنګردکلی څخه دقبلې خواته یوکور جوړشوی وه چې داد بسم الله ماماوه او میرمن یې دقولک دکلې وه موږبه ترور( خاله ) ورته ویله هلته ورغلوددروازې ټکیدل خو یوناشونی کاروه بام ته مو تیرې ورواچولې هغوی په ډیره ویره ورو ورو غږ وکړ څوک یې ، زما کاکا خپل ځان ورته معرفي کړ او دروازه یې خلاصه کړه چې هلته څه وخت په ویښوپاتې شوو دسهار درا ختو څخه مخکې ددوی دکورڅخه ووتو او قولک ته مو ځان ورساوه هلته زما دخاله کوروه چی خاوند یی محمد انور نومیده بیاوروسته زما خسرهم شو هلته مو دغه شپه تیره کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

-ماسپښين مهال زما مشرورور استاد ملنګ مرحوم هلته راغئ اودشپې دقولک دکلي څخه دهجرت په لورروان شول ، زه بيرته ټټنګ کلی ته ستون شوم ، اودوي دواړو پيښورته هجرت وکړ، لکه څنګه چې مولوی صاحب ديوويښ ضمير څښتن وه او لادمخه دافغانستان داسلامی حزب سره ئی اړيکی درلودې نو په ورسک نمبريوسيمه کې چی دګوتو په شمير مجاهدين هلته رسيدلی وه ورسره يوځای شو.

## دچک د ولسوالي فتحه :

-شفيقی صاحب ليکي : درهبری له مرکزڅخه په 1357 او 1358 شمسی کلونوکې ................ اوملنګ ( چې زمامشرورور دی ) جلا جلا وردګوده راوليږل شول ترڅو دسيمې وضعيت درک او له ورڅودل شويو کسانوسره اړيکې ټينګې کړي .[4]

-دکفاروپه ضد دخلکوکرکه زياته شوه چې پدې هکله دغه ډګر ته دسيمې يو شميرمؤمن کسان شامل شول او عملاپې دکفاروپه ضد دجهاد سنګرته وردانګل چې دپاخون په زمينې برابرولوکې يې ددايميرداداو علاقه داری په سطحه ............. ملنګ ( زمامشرورور ) او ځينې نورکسان ديادولوو ړدي ، په عمومي ډول دغه ورونوته په مستقيم ډول له مرکزي حوزې څخه دشهيد مدير محمد ولی خان او ځينې نوروورونولخوا هدايت ورکول کيده وروسته بيادغه تيت او پرک فعاليتونه د .......... ملنګ او ځينونوروپه هڅه اوهاند سره يو او متحد شول .[5]

- شفيقی صاحب ليکي :

---

- اسلامی پاڅون ص 56.[4]
- اسلامي پاڅون ص 58 .[5]

(c) ketabton.com: The Digital Library

-دخوات بیک سمند او اله سنګ حوزه ، د ملا[6] محمد پذیرزوی ملنګ چې دپیښورڅخه دحوت په میاشت کې سیمې ته راغی اوپه سیمه کې دعلیشې ، انبوخاک ، اله سنګ ، بیک سمند او ګوډه له ځنوکسانوسره یی په فعالیت پیل وکړ،

-دیادونې ورده : چې کوموکسانوچې له ملنګ سره ارتباط پیداکړ، له هغه څخه یې پخواله حزب سره اړیکې درلودې خو ملنګ ورته دمرکزیت حیثیت غوره کړ.[7]

- داسلامی تحریک دمرکزي حوزې اودرهبری له مرکز«پیښور» سره ملنګ ......... او ځینې نورکسان په تماس کې وو،چې دغه ورونولومړی په سیمه کې ځانګړي ځانګړي دفعالیت ساحه درلوده وروسته دغه ساحې سره ونښلول شې اوپه یوه قومانده په بریالي پاڅون سره سرته ورسیدې .[8]

- کله چې محمد امین ماما له پیښورنه راغی دسیمې او مرکزي حوزې درابطې په حیث یې کار پیل کړ ، وروسته بیا ملنګ ............ هم په پراخو فعالیتونولاس پورې کړ.[9]

- دتوپکو دویش په جریان کې آوازه خپره شوه چې هزاره ګان په وردګوحمله کوی ددی کارپه جریان کې چې څه تدبیرونیسې دجوزاپه اتمه نیټه لاندی کسان سره جرګه شول : ....... ملنګ ، او ځینونوروکسانو دحسین کلاپه غره کې غونډه وکړه چې په نتیجه کې : ......... اوملنګ دعلاقه داری او هزاره ګانو داطمئنان

---

[6]-داد شفیقی علمیت او تربیه ښکاره کوي .
[7]- اسلامی پاڅون ص 84.
[8]- اسلامي پاڅون ص 83-84.
[9]- اسلامی پاڅون صی 86 .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ارتباط لپاره واستول شول، شپه یی په ګوډه کې تیره کړه سباپه دالان کی یی د ( علاقه دار صاحب [10] عبد الکبیرخان او نورو مجاهدینوسره یی وکتل . [11]

- دګردن مسجد په مجاهدینویو زیری وشوچې دمجاهدینو د ډاډ او اطمئنان سبب شو او هغه داچې دپردیسو مهاجرینولومړی کاروان د نومړو مجاهدینوسره یو ځآی شو ، چې دچک دولسوالی څخه ....... محمد نذیر ، مولوی محمد پذیر.......... دلومړي ځل لپاره سیمې ته ورسیدل دچې دسیمه والو لخوا یې بې ساری ښه راغلاست وشو.[12]

- دسرطان په دولسمه نیټه یوه لویه غونډه جوړه شوه چې دتیروغونډو پرګډون والوسربیره دغه کسان نورهم په کې شامل شول ..... مولوی محمد پذیر......... اونور. [13]

-کله چی دوردګوولایت دچک ولسوالی د ۱۳۵۸ هـ ش کال د زړورو مجاهدینو په لاس فتحه شوه نو مرحوم مولوی صاحب لومړنی کس وه چی د مجاهدینو په اتفاق سره په منطقه کی دقضا ء چاری وروسپارل شوی چی پدی سره دمجاهدینو لومړنی قاضی وټاکل شو خوکله چی ولیدل شو چی دعلمیت ، خدای ورکړی استعداد ، اوپوره زړورتیا څښتن دی نونورو اسلامی تنظیمونوهم دده په ټاکل کیدوسره څه اعتراض ونکړ اوپدی سره یومنتخب جهادی قاضی وټاکل شو.[14]

---

[10]-د لیکوال لخوا .
- اسلامی پاخون ص 91- 92 . [11]
- اسلامی پاخون ص [12]126
- اسلامی پاخون ص 128 . [13]
- دقاضی سید احمد شاه آغا خاطري . [14]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک او جلګې په ولسوالیو د روسانو یرغل:

۱۳۵۹ کال د اسد د میاشتې پنځمه د روژې د میاشتي۱۳ نیټه روسانو د سید آباد د ځپلو سره مل د چک ولسوالی په لوري هم یرغل پیل کړ . د چک ولسوالي چې ټولې سیمې یې د ۱۳۵۸ کال دعمومي قیام په ترڅ کې د حکومت له واکه ووتې او کمونست حکومت تیر یو کال څو ځله هڅه وکړه چې د دې ولسوالۍ واک بیرته تر لاسه کړي ، خو دوی هر ځل د ماتې په ګاللو او ډیرو تلفاتو په ورکولو به بیرته شاتګ ته اړ کیدل . دا ځل روسانو غوښتل د حکومت دا تللی عزت بیرته را وګرځوي او دا ولسوالي له سره فعاله کړي نو یې د سلګونو ټانکونو او زرګونو عسکرو په ملاتړ د چک په ولسوالۍ برید وکړ .

-د تیرو جګړو د تعامل له مخې به ، چې کله هم دولتي ځواکونو په چک د حملې پلان ونیو ، نو مجاهدینو به د چک د درې د لومړۍ برخې کلي د دې کبله چې خلک زیانمن نشي د ولسوالۍ نورو برخو او یا نیژدې غرونو ته لیږدول ، ځکه په تیرو قوو کې دا کلي ډیر ځوریدلي ؤ یو ځل له دې وړاندې د ګلي د کلي ۲۰ کورونه دولتي قواوو وسوځول، بل ځل یې درمندونو ته اور ورته کړ،چې په یوه ځل د استاذ ظفرخان درې جریبه شولې وسوځیدې، دا ځل هم د معمول په شان د چک د لومړۍ برخې خلک د علیشې د غرونو په لوري روان ؤ

. -نو له همدې امله د ملکي خلکو تلفات هم ډیر زیات شول چې د پیښې اصلي جریان د فرید د کلي اوسیدونکی ګل مرجان د عبد الله جان زوی داسې بیانوي:

-سهار وختي اوازه خپره شوه چې د ټوپ په دشته کې د روسانو لویه قوه راټوله او غواړي د چک په ولسوالۍ حمله وکړي په دې سره د ډیرو کلیو ښځه د قتل عام له ویرې ډیر خلک د علیشې د غره په لور له ښځو او ماشومانو سره روان شول ، د لمر ختلو سره ځیني خلک غره ته ورسیدل او ځیني لا په لاره روان ؤ ، چې د توپونو او راکټو د ډزو باران جوړ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

-بل خوا مخکې تر دې چې مجاهدین سنګرونو ته ورسيږي ، روسې عسکر ددوی تر شا له هلېکوپټو پلې شول، ګڼ شمير هليکوپترو د عليشې د درې په غونډيو کې عسکر پلې کړل ،) د تيرو يرغلونو په خلاف دا ځل روسانو خپل تکتيک بدل کړی ؤ ، په کوم مورچل کې به چې مجاهدينو جګړه کوله روسانو به په هليکوپټر و کې پوځيان ددوی تر شا پلې کړل ، له ځمکې او هوا به يې مجاهدين تر بريد لاندې ونيول ،د شاته تلو لارې به يې پرې بندې کړې ،په دې ډول د مجاهدينو تلفات په ټولو وردګو کې زيات شول ،د چک ولسوالۍ په) ګرداب او شاه قلندربابا (عليشه ،بيک سمند ،آب پران ،ګردن مسجد ، او د بوم تنګي په مورچلو کې سختې مقابلې وشوې ( د حزب اسلامي مجاهدينو ) د ملک امير خان په مشری چې په عليشه کې يې مرکز درلود او دحرکت او جميعيت يو يو ګروپ هم همدلته ؤ( دروسانو سره جګړه پيل کړه ،د روسانو ټانکونه ناوخته په ۱۲ بجو د لنګر ډاګ ته راورسيدل ، او ګڼ شمير هليکوپټرو په مجاهدينو بمبارد کاوه بلې خوا ،روسانو په لويو توپونو د عليشې دره او غرونه له ليرې واټنه ويشتل، د روسانو پلو عسکرو د ګډعلي څخه تر عليشې پورې په ټولو کليو کې چې څوک ميندل نو يې ووژل ، په ملی خيلو ، سيدانو، فريد کليو کې يې خلک قتل عام کړل ، له بل لوري کومې کډې چې په لاره دغره خواته روانې وې د درې په منځ کې تر بريد لاندې راغلې او زياتره همدلته ووژل شول ، روسانو تر ۱۲ بجو پورې د مجاهدينو مقاومت ختم کړ، ځينې شهيدان او نورو د عليشې غره او د بيک سمند درې ته شاتګ وکړ.

-روسانو د بيک سمند او د چک د ولسوالۍ په لوري پرمختګ وکړ، ماښام مو د شهيدانو په راټولولو او دفن کولو پيل وکړ ،

په لومړی شپه مو ۴۰ تنه شهيدان دفن کړل ، دا چې روسانو لا شتون درلود ،ونه توانيدو پاته شهيدان دفن کړو ، نو نور ۳۶ تنه مو په دوهمه شپه دفن کړل ).په دې ورځ ټولټال په ګرداب کې) ۱۲ (تنه ،په عليشه کې) ۶۰ (تنه او په بيکسمند کې) ۴۸ (تنه شهيدان شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریمه ورځ روسانو د بیک سمند او چک په لور پرمختګ :

-هلته په بیک سمند[15] کې یوشمیر نورو مجاهدینو ،په یوې دهشکې سره تر ماښامه جګړه وکړه ،د خوات د سیمې مجاهدین په آب پران کې د بت د غاښې ښې لورې ته سهار تر ماښامه ایماني غیرت وځلاوه ، روسان چې ددوی له ماتولو ناتوانه شول ،په زهري مرمیو یې د آب پران تنګی وویشت ،او مجاهدین یې شهیدان کړل چې شمیر یې ) ۲۲ (تنه ؤ (ددې شهیدانو په نوم د چک د بازار سره یو ځلی هم جوړ دی ،چې نومونه یې پرې لیکل شویدي. چی متأسفانه زه و نه توانیدم ددی شهیدانو نومونه تر لاسه کړم ، که څوک یې په کمنټ کی ولیکي ډیره مهرباني به یی وي .

-همدا شان دې قوې د چک په خلیلي کې د آغاجان د عبدالخالق د زوی کور بمبارد کړ،چې کور یې وران او یوه لور یې شهیده شوه ،همدا شان د سردار خان کور یې بمبارد کړ،یوه ۱۵ کلنه لور یې شهیده شوه ، د سپین ګل د سخې جان د زوی کور یې بمبارد کړ،چې کور او مال یې ټول له منځه ولاړل، همدا شان د نومورې کلي یوه تن مؤمن د ګل نبي زوی په پټي کې غوښتل روسان په لور ووهې چې بیا یې شهید کړ .دا قوه د چک څخه د بوم په لوري پرمخ ولاړه په بوم کې د مرحوم حاجي احمدجان او ملاظاهر جان په مشرئ سخته جګړه وشوه ، چې احمدجان ټپي او ظاهر جان له یو شمیر نورو مجاهدینو سره شهید شو ، قوه نوره هم پرمخ ولاړه او تر دې چې جلګې ته هم ورسیده ، په تنګي سیدانو کې د جلګې د مجاهدینو عمومي قوماندان بسم الله خان او یوشمیر نورو مجاهدینو ،په میړانه خپل موچلونه وساتل ،تر څو چې شهیدان شول.

---

[15]- مور د ټېنګ دکلی څخه سهار وختي دکورنو سره ووتلو کله چې دحسین کلاڅخه تیرشوو کورو چې د اردو څخه وړاندې روسانو خپل عسکر د طیارو څخه ښکته کړي وه نو یوه دهشکه وه چې مجاهدینو تر ماښام پور ی د روسانو مخه نیولې وه بیا ماښآم روسان راتیرشول ښځې او ماشومان دجلیل کلی ته لاړل ددې څخه وروسته مور عربانو دری د کوډی کلی ته مهاجر شوو چې د ژمي تیریدو وروسته زموږ فامیل هم پاکستان ته مهاجر شوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

-تر لسو ورځو وروسته د روسانو او داخلي کمونستانو دا لوی لښکر بیرته کابل ته راوګرځید ،داچې په جلګه او د چک ولسوالي په نورو سیمو کې روسانو څه وکړل زه یې د معلوماتو په راټولولو بریالی نه شوم ،نو له لوستونکو څخه بښنه غواړم . او هیله لرم چې ځوان لیکوالان له ما سره مرسته وکړي د هغو شهیدانو نومونه را ټول او په کمنټ کي ولیکي په ټولیزه توګه ددې قوې د راتګ څخه تر بیرته ګرځیدو پورې د وردګو په ټولو سیمو کې) ۱۲۰۰ (تنه په شهادت ورسیدل چې په لسو ورځو کې ددې ناورین همدا نتیجه وه،چې وردګو وځکله[16].

-بیاکله چی داسلامی تنظیمونوخپل منځی جګړی پیل شوی مرحوم مولوی صاحب محمد پذیر بیا پیښورته راغی اود ژوند په پای کی دوینی په سرطان اخته شو چی تقریبا دڅلورو میاشتو مریضی څخه وروسته دپنجشنبی په شپه ۱۷ / ۲ / ۱۳۷۳ هش کال چی د ( می ) میاشتی داوومی نیټی ۱۹۹۲ میلادی کال سره سمون خوری دهجرت په دیارکی ئی دتل لپاره ددی فاني دنیا سره خدای په امانی وکړه .

روح ئی د ښاد یاد ئی دتل وی .

**په اړه ئی دخپلو دوستانوڅرګندونی :**

۱- دجهاد د وتلی مشر او د مرحوم مولوی محمدپذیر رحمه الله تعالی د سنګر د نږدی ملګری څرګندونی په لاندی ډول سره پیلیږی : [17]

**-ښاغلی قاضی سید احمدشاه آغا وائی :**

-د ۱۳۵۸ هـ ش کال ددلوی میاشت وه چی کمونستانو دجهنمی زندان څخه آزاد شوو او هر څوک دخپل کور اووطن په لوری لاړل ، زه هم په ډیره بیړه له کابله دخپل کور په لوری ولاړم له نیکه مرغه چی دوردګو

- دوردګوولایت ددوه لسیزویادښتونه ، محمد شفیق صادق .[16]
- دقاضی سید احمد شاه آغا خاطری .[17]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولایت د چک ولسوالی لا مخکی د مجاهدینو لخوا دکمونستانو له سړی خوارو څخه پاکه او آزاده شوی وه د مجاهدینو مرکزونه په کی فعال وو.

-څو ورځی وروسته دحزب اسلامی مرکز ته ولاړم ، ځنی مجاهدین می د متعلمی او تحصیلی دوری څخه پیژندل ، او ځنی کلیوال او دولس خلک وو ، هریو دعقیدی مدافع ، دعزم او ارادی څلی او دسنګر اتل معلومیده .

-دعقیدی د دفاع او دسنګر د ساتلو خبری او مجلسونه وو ، هرمجاهد روسانو او دهغه ګوډا ګیانو ته په لاس په اورکی خوت ، دشهادت کیسی وی ، او د دونیا له ژوند څخه بی پروا ئی وه .

-دهر چا خبری می اوریدلی او زه هم ډیر خوشحاله وم ، او د دعوت په ثمره باندی نورهم ډاډه کیدم ، ترڅنګ می یو دروند ،نورانی ، با وقاره سړی ناست وو ، چی مجاهدینو ئی ډیر عزت او احترام کاوه ، دده هر ه خبره به مجاهدینو ډیره په دقت اوریدله . په خبروکی ئی علمی وزن وو، چی هره پوښتنه به ځینی وشوه په ډیر ښه لهجه او علمی دلائلو به ئی ځواب ورکاوه ، دتیرو زیاتو خبروئی ډه ډه کوله دروند اوعزتمن سړی وو.

-داسړی مولوی صاحب محمد پذیر مشهور په" قاضی پذیرکو" وو. دخدای ښلی په هکله مې چې څه اوریدلي وه همغسې وه اوکله چی بلد شوو رښتیا هم چی دهمداسی صفاتو څښتن وو.

-دچک ولسوالي داولو محرکینو څخه وو چی خلک ئی دکمونستانو په ضد پاڅون ته هڅولی وو. دجهاد فتوی ئی ورکړی وه ، خپله مدرس ، عالم اود فقهی متخصص وو. همدا دده علمی نبوغ وو چی دجهاد له اولی ورځی څخه د چک او دایمیردادو د ولسوالیو د قضاء مسؤلیت یې په غاړه اخستی وه ، حتی کله ناکله به دوردکو ولایت دنورو ولسوالیو څخه هم قضایاوی ورته راوړل کیدلی ، او په ښه توګه به ئی حل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل کولی ، خلک ئی په تقوی او پرهیزګاری ډیر ډاډه وو ، همدا لامل وه چی په قضائی پریکړو کی موفق او دولس خلکوته ئی پریکړی دپوره منلو وړ وی .

-دچک او دایمیردادو د جهاتو په سطحه د متنفذینو اوقوماندانانو په عضویت یوه لویه شوری رامنځته شوه چی مرحوم قاضی محمدپذیر ئی یو له مؤسسینو څخه وو، د ډیری شدیدی رایی خاوند وو، د وړو نزاکتونو څخه به ئی د ډېی کولو مشوره راکوله .

-دحوصلی او برد باری خاوند وو، او په حوصله به ئی توصیه کوله ، دچارو په هکله به ئی تصمیم د پوهی اوبیا به ئی دتصمیم او پلان په هکله تردید نه کاوه ، دجهاد دامانتونوښه تکړه امانت داروو، د چلولی او فریب څخه ئی نفرت درلود ، دقضائی مسائلو په هکله ئی ډار اوتشویش نه درلود ، پخپلو کړو وړو ډیر ډاډه وو.

-اوکله چی دافغانستان داسلامی حزب د وردګو ولایت مالی مسؤل شو ډیر امین وو، که څه هم دجهاد په دوران کی دولایت د مالی مسؤل سره نقدی امکانات محدود وو ، خو قاضی صاحب به بیا هم مجاهدینو سره کومک او مرسته کوله او مجاهدینوبه د پلار په څیر دده احترام درلود ، او مجاهدینوبه خپل مشکلات په ډیره آزاده توګه ورسره شریکول ، مشوره او دحل لاره او چاره به ئی ورښودله .

لنډه داچی که دقاضی صاحب محمد پذیر دده دهلو ځلو په هکله کتاب ولیکل شی لا به هم لږوی ، قاضی صاحب دخپل عمر په وروستیو ورځوکی چی دعمر خزانه ئی په تمامیدو وه دوطن دآزادی په هکله ارمانجن

(c) ketabton.com: The Digital Library

اود هیلوغوتې ئي ونه سپيړل شوه ، دعمرپه ( ۵۴) کلنی او په کال ۱۳۷۳ هـ ش له دی فانی دنيا څخه ئی دهجرت په ديارکی سترګی پټی کړی الله جل جلاله د فردوس جنت ورکړی .[18]

## ۲- د مرحوم قاضی صاحب محمد پذيرپه ياد :

( قاضی محمد حسن اسلامی د مرحوم قاضی صاحب دهجرت او جهاد دسختوورځوملګرئ يادښت)

-هلته چی د نورمحمد ترکی له ناولی کودتا وروسته هجرت ته مجبور شوم زه او قاضی فيصل پيښور ته لاړو د ورسک کيمپ د يو شمير هغو مبارزينو پنډغالی ته ورغلو چی هغوی هم زموږ غوندی د کمونستانو له د ظلم له لاسه خپل وطن پری ايښی وو او په هجرت مجبورکړی شوی وو، په دی کيمپ کی می يو ترټولو سپين ږيری عالم وليد چی مولوی محمد پذير د بکسمند يو مدرس عالم وو اوبل می نسبتا ترټولو کوچونی مهاجروليد چی هغه د مولوی صاحب تنکی زوی محمد نذيرملنګ وو دوی دواړه چی د خپل کور مشرانو او سرپرستان وو، سړی فکرکاوه چی ځُرتونه به وهی خو مولوی صاحب د همت او استقامت وو ، موږ ته به يی داډ را کاوه خپه کيږی مه الله جل جلاله به کمونستان ورک کړی وطن به آزاد شی سرلوړی به خپل وطن ته زو،

-خو کم وخت تيرشو چی وردګو ته دجهاد لپاره راغلو له پيښوره تروردګو په ۱۳ ورځو کی راورسيدو د دی سختی خطرناکی اوګدی لاری مشکلات ما په خپلو خاطرو کی ليکلی دی دوډی نه وه لاره سخته اوږده د غرو رغونو هسکی تيټی د شپی د زرملی د ماښامه څخه تر سهاره مزل وهل څه عادی خبره نه وه بيا مولوی صاحب محمد پذيرغوندی يوه سپين ږيری عالم ته او ورسره تنکی ځوان زوی يی استاد محمد نذيرچي په

[18] ـ دقاضی سيد احمد شاه اغا د ليکنې پای .

(c) ketabton.com: The Digital Library

( استاد ملنګ ) مشهور وه هم په لوړو ژورو کی به مو تیندکونه خوړل او چیری به په ویالو او لښتیو کی راپری وتو.

-لنډه دا چی وردګو ته راورسیدو د چک ولسوالی نوی فتحه شوی وه د جلګی علاقه داری څوورځی له مخی فتحه وه ، خوشحالی وي دمولوي صاحب خبره رښتیا شوه . الله تعالی کمونستان ذلیله کړی وه سیمه آزاده وه هلته شورا اوولسوالی مجاهدینو فعاله کړی وه ، مولوی صاحب محمد پذیردولسوالی قاضی وټاکل شو، اوددي ترڅنګ به یی په مرکزکي مجاهدینوته د ډوډی په مهال کاسي ایښودلي اوخپله به یی خدمت کاوه ، مولوی محمد پذیر او مولوی عبدالظاهرجان آخندزاده داسلامی تحریک دځوانانودپلرونوپه شان د ډاډ اوتسل ستني وي اومجاهدین به یی شااوخوا دزامنوپه شان را ټول وؤ ، هغه د جهاتو قاضی شو خو باجرأته قاضي اوتل به یی فقهی کتابونه او معتبری فتاواوي په شا ګرځولي او ترنیموشپوبه مطالعه کوله ، ترڅو په حکم کي خطا نشي .

-مابه تل ورسره بحث کاوه ، ژورعلم یی درلود اوتل به یی خپل معلومات په نوي اصطلاح آبدیت ساته ، هغه د سنګر مفتی وه ، دجهاد قاضی وه ، اوهرعالم دیته زړه نشوای نیولی ، هغه د قوی عزم ، کلک تصمیم ، کلکي ارادي او بشپړتوکل څښتن ؤو .

-تل به ئی سنګرونوکي مجاهدینوته احکام بیانول ، هغه ښه عابد اوذاکر سړی وه .

-بیا دجلوزوکیمپ کي سره ګاونډیان وه داختر لپاره موغوښتل خپلو نژدي ګاونډیانوکي ډوډئ وکوو، خبره پدي شوه چي یوازې دنارینه ؤ لپاره اوکنه دښځولپاره به هم ډوډئ وي ، ده وویل : قسم دی چي ښځوته ډوډی ونه کوئ که زه پدي پروګرام کي درسره موفقه وکوم .هلته زه دي خبري ته متوجه شوم چي د ښځوپه هکله ئی څومره مهربانه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-هو! هغه په جهاد او مبارزه کې مؤمنانه تشدد درلود خوپه مسلمانانو ډیر مهربانه ؤ ، اوبیائی د ښځومظلومیت نشوای زغملئ هغه په مختلفودفترونوکې هم په امانت دارئ کاروکړ.د افغانستان د فتحې شپط ورځې وې چې د الله جل جلاله تقدیروه هغه وفات شو.

-الله جل جلاه د جنتونه ورکړي ، اوجهاد او هجرت په سختیوکې ئې خپل زامن ښه عالمان کړل استاد ملنګ (محمد نذیر علمیار) او استاد محمد بشیر مدني داسلامی علومودزده کړې لپاره سعودی ته واستول او الحمد لله چې ښه عالمان خپل وطن ته راغلل اود هیواد تکړه کدرونه شول .الله جل جلاله د مرحوم قاضی صاحب ته جنتونه ورکړي او اولاده ئی دله لارویانوډکه وه .[19]

3- دزبیر شفیقي نظرمخکې د هجرت په لارکی تیرشو.........

لیکوال : محمدبشیر مدنی دمولوی محمدپذیر زوی دمدینی منوری داسلامی پوهنتون دحدیثودپوهنځی څخه لیسانس اودپیښور پوهنتون څخه ماستری لری اوفعلا په کابل کې دپوهنې وزارت داسلامی زده کړوپه معینیت کې دعلمی اومسلکی غړی په حیث دنده اجرا کوې .

[19] - قاضی محمد حسن اسلامی دقاضی صاحب دهجرت او جهاد دسختوورځوملګرئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاتمه

الحمدلله چې د مرحوم مولوی محمدپذیر آخندزاده رحمه‌الله پيژندنه مو بشپړه کړله . دا کتاب موږ د يو داسې شخصيت له ژوند سره اشنا کوي، چې د خپل ژوند هره لحظه يې د الله تعالی رضا، د اسلام خدمت، او د افغان مظلوم ولس د آزادۍ لپاره وقف کړې وه.

-قاضي محمدپذير رحمه‌الله د علم، عمل، زهد، جهاد او تقوی مثال و. هغه د خپلو زده کړو له بشپړولو وروسته د امام، مدرس، او قاضي په توګه خپل ملت ته خدمت وکړ. د کمونيستي اشغال پر مهال يې د هجرت او جهاد لارې غوره کړې، او د وردګو ولايت په چک او جلګې ولسواليو کې د اسلامي نظام د بنسټ ايښودونکو له جملې څخه شو. هغه د جهاد په ټولو برخو کې فعاله ونډه لرله، او د علماوو په صف کې يې ستر رول ادا کړ.

-که څه هم د ژوند پای ته نږدې د سرطان ناروغي پرې راغله، خو تر وروستۍ شيبې پورې يې د حق لارې نه انحراف ونه کړ، او په هجرت کې يې د حق کلمه پورته وساتله.

موږ د داسې شخصيتونو په تاريخ افتخار کوو، او بايد د دوی له ژوند نه عبرت واخلو، او راتلونکی نسل پرې وروزو. د الله تعالی نه دعا کوو چې مرحوم مولوی صاحب ته جنت الفردوس ورکړي، او دا ليکنه يې د صدقې جارېې په توګه قبوله کړي.

آمين يا رب العالمين

محمد بشير مدني دمرحوم مولوی صاحب کشرزوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمنابعو فهرس

۱- دچک او دايميردادو اسلامی پاڅون دزبير شفيقی ليکنه .

۲- دقاضی سيد احمد شاه آغا خاطري . ناچاپ .

۳- وردګوولايت ددوه لسيزويادښتونه ، محمد شفيق صادق . انرنيټ .

۴- قاضی محمد حسن اسلامی دقاضی صاحب دهجرت او جهاد دسختوورځوملګرئ ، خاطرې ناچاپ .

۵- کابل ټکی کام د مولوی عبد الهادی ليکنه .انترنيټ .

۶- محمد بشير مدنی د کتاب ليکوال .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**